# MEDIA STATEMENT

UNITED NATIONS HUMAN RIGHTS SPECIAL PROCEDURES

SPECIAL RAPPORTEURS, INDEPENDENT EXPERTS & WORKING GROUPS

**افغانستان: د ملګرو ملتونو کارپوهان د رسنیو لخوا  د ناسمو معلوماتو  خپرولو په اړه اندیښمن دي.**

جینیوا (د ۲۰۲۳ کال د جولای ۲۸) - د ملګرو ملتونو کارپوهانو* نن په افغانستان کې د ښځو  او نجونو د حقونو په اړه د بشري حقونو د شورا د غونډې په اړه د یوې رسنۍ لخوا د ناسمو معلوماتو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه. دوی لاندې اعلامیه خپره کړه:

"موږ په ژوره خواشینۍ سره خبر یو چې د افغانستان انټرنیشنل په نوم یوې رسنۍ د جون په میاشت کې د بشري حقونو په شورا کې د ښځو او نجونو د حقونو په اړه له یوه مهم بحث څخه ناوړه ګټه پورته کړه،  او د دې پر ځای چې پر مهمو مسلو تمرکز وکړي، د ملګرو ملتونو  کارکوونکې او یوې بللې شوې افغانۍ میرمنې خلاف یې د عامه سپکاوي کمپاین پیل کړ.

دا ډول فرصتونه باید د یو لړ نظریاتو د بیان لپاره خوندي ځای وي.  په داسې حال کې چې د ویناوالو نیوکه د هغو موقفونو لپاره چې دوی د بشري حقونو په مسلو کې اخلي د منلو وړ دي، ټولې ګډونوال باید د ډارولو، ناوړه ګټه اخیستنې، ګواښونو، یا د غچ اخیستنې نورو ډولونو څخه پاک وي. شخصي بریدونه، د شخصي حریم نقض، او د جنسیت په اړه د ناسمو معلوماتو خپرول کولی شي د اغیزمنو اشخاصو د خوندیتوب او امنیت لپاره جدي پایلې ولري او د دوی شهرت ته سخت زیان ورسوي.

اړونده ماموریت لرونکواو د ملګرو ملتونو لوړ پوړي کارکوونکو د یوې ټاکل شوې کړنلارې سره سم د دې غونډې لپاره د ګډون کونکو په غوره کولو کې همغږي کوي ، او د موضوع پورې اړوند د غږونو او نظرونو پراخوالي ته لومړیتوب ورکوي. نه د  ملګرو ملتونو کارکوونکي.

موږ په افغانستان کې د ښځو او نجونو د بشري حقونو د بیا رغولو او ساتنې په برخه کې د پراخو نظریو د درناوي په ګډون، په ځانګړې توګه د افغان میرمنو له خوا د نظرونو د څرګندولو په برخه کې د ګډ تمرکز غوښتنه کوو.

*پایلی*

*کارپوهان: ریچارډ بینیټ، په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی؛ دُرتِه اِستِرادا تانک (رییس)، ایوا خاداشیچ (مرستیال)، اِلیزابت برودِریک، مِسکیم گیست تِیکِینی و مِلیسا اوپرِتی ، د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعیض په اړه کاري ډله؛ ریم السالم، د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه ځانګړې راپور ورکوونکې، د هغې لاملونه او پایلې؛آایرین خان، د نظر او بیان د ازادۍ د حق د ترویج او ساتنې په برخه کې ځانګړې خبریاله؛ ماری لاولر، د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په اړه ځانګړې راپور ورکوونکي*

ځانګړي راپور ورکوونکي او کاري ډلې، د هغه څه یوه برخه ده چې د بشري حقونو د شورا د ځانګړو پروسیجرونو په نوم پیژندل کیږي. دا د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په سیستم کې د خپلواکو کارپوهانو ترټولو لویه جوړښت ده. د ځانګړو پروسیجرونو واک لرونکي د بشري حقونو خپلواک متخصصین دي چې د بشري حقونو شورا لخوا، د نړۍ په ټولو برخو کې د ځانګړي هیوادونو د خاص حالتونه د څیړلو لپاره ټاکل کیږي. دوی د ملګرو ملتونو کارکونکي ندي او له هیڅ حکومت یا سازمان سره تړاو نلري. دوی په انفرادي ظرفیت کې خدمت کوي او د خپل کار لپاره معاش نه ترلاسه کوي.

د ملګرو ملتونو د نورو خپلواکو کارپوهانو په اړه د معلوماتو او پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ maya.derouaz@un.org او دریشا اندراګوپتا dharisha.indraguptha@un.org سره اړیکه ونیسئ.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د خپلواکو کارپوهانو اړوند خبرونه په ټویټر کې تعقیب کړئ. @UN_SPExperts.

آیا د هغه نړۍ په اړه اندیښمن یاست چې پکې ژوند کوو؟

بیا نن د یو چا د حقونو لپاره ودریږئ.

Standup4humanrights#

او د ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ http://www.standup4humanrights.org